# آربعين خلفاي راشدين

Ketabton.com

ليکوال: عبدالوکيل ناجح
ژباړه : ضياءالرحمن ذهين

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | اربعین خلفاي راشدین |
| ليکوال: | عبدالوکیل ناجح |
| ژباړه: | ضیاءالرحمن ذهین |
| کمپوز: | ژباړن |
| ډيزاين: | ژباړن |
| پښتی ډيزاين: | ژباړن |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

هغه چاته چې زما هر غم او ستونزي ته به لکه د سپر په څیر ولاړ  وو، هغه چاته چې هوډ او حوصله یې د لوړو غرونو په څیر قوي او نه ماتیدونکي وه، هغه چاته چې زما د زدکړو او پرمختګ لپاره یې هر ستونزې او کړاو ته یې په ورین تندې سینه سپر کوله. پلارجانه! رب تعالی دې اوږد او له خوشحالیو ډک عمر درنصیب کړي.

**ض. ذهین**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مطالبو لړلیک

## لومړۍ برخه


دحضرت ابوبکرصدیقرض فضلتونه ........ 4
له ابوبکر صدیقرض سره د الله‌ﷻ ځانګړې ملګرتیا ........ 4
د نبي کریمﷺ او ابوبکر صدیقرض خالصه مینه او دوستي ........ 4
د نبي کریمﷺ په وړاندې محبوب ترین شخص حضرت ابوبکرصدیقرض وه ........ 5
حضرت ابوبکر صدیقرض قرباني ورکوونکې صحابي وو ........ 5
حضرت ابوبکر صدیقرض د جنت له ټولو دروازو څخه دعوت شوي ده. ........ 5
ابوبکر صدیقرض د نبي کریمﷺ همیشنې ملګري وو ........ 6
ابوبکر صدیقرض او عمر فاروقرض بهترین اصحابان وو ........ 6
حضرت ابوبکر صدیقرض دخلافت لپاره وړ شخصیت وو ........ 6
د خلافت لپاره له ابوبکر صدیقرض پرته بل څوک د منلو وړ نه ده ........ 6
په حضرت ابوبکر صدیقرض کې د نیکو اعمالو ټولیدل او د هغه جنت ته داخلیدل ........ 7
د حضرت عمر فارولرض فضلتونه ........ 8
د الله‌ﷻ له لوري د اسلام لپاره د حضرت عمررض ټاکل ........ 8
د الله‌ﷻ او حضرت عمررض ترمنځ تړون ........ 8
د حضرت عمر فاروقرض پرهیزګاري ........ 9
د حضرت عمررض علم او ذکاوت ........ 9
حضرت عمررض د حقیقتونو سرچینه وه ........ 9
د پیغمبري لپاره د حضرت عمررض وړتیا ........ 9
حضرت عمررض یو الهامي شخصیت وه ........ 10
له حضرت عمررض څخه د شیطانانو تېښته ........ 10
حضرت عمررض د خپل عصر نابغه وه ........ 10
حضرت عمر رض په جنت کې د ماڼۍ څښتن ........ 11
د حضرت عثمانرض فضلتونه ........ 12
حضرت عثمانرض د نبي کریمﷺ ملګري وو ........ 12
عثمانرض د خیر په کارونو مخکښ وه ........ 12
حضرت عثمانرض ته هیڅ کله هم ضرر ونه کړي ........ 13
له حضرت عثمانرض نه ملائکو حیاء کوله ........ 13
د عثمانرض د خلافت پر مهال د فتنې د واقع کیدو په اړه د نبي کریمﷺ وړاندینه ........ 13
حضرت عثمانرض یو مظلوم شهید ........ 14
د فتنې د رامنځته کیدو پرمهال عثمانرض په حقه وه ........ 14
د حضرت عثمانرض قبولې شوي صدیقي ........ 14
له حضرت عثمانرض څخه د ابن عمررض ملاتړ ........ 15
د حضرت عثمانرض د شهادت ثبوت ........ 15

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت علي رضي الله تعالی عنه فضلتونه ........ 17
له حضرت علي^رض سره مینه کول الهی امر دي ........ 17
له علي^رض سره د نبي کریمﷺ مینه او محبت ........ 17
د نبي کریمﷺ په وړاندې د حضرت علي^رض مقام ........ 18
علي^رض دوست مسلمان او دوښمن یې منافق دي ........ 18
حضرت علي^رض ته توهین د نبي کریمﷺ د قهر لامل شو ........ 18
حضرت علي رضي الله تعالی عنه دخیبر فتحه کوونکی ........ 19
حضرت علي رضی الله تعالی عنه د قرانکریم په اساس جګړه کوله ........ 19
د علي رضی الله تعالی عنه لپاره د الله ﷻ ښښنه ........ 20
حضرت علي^رض لپاره د جنت زیري ........ 20
حضرت علي رضي الله تعالی عنه غوره شخصیت وو ........ 20

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال سریزه

**الحمدالله رب العالمین والعاقبه للمتقین والصلاه والسلام علی رسوله الامین وعلی آله واصحابه اجمعین، خاصةً الخلفاء الراشدین المهدیین الذین اهتدوا الی صراط مستقیم ونصروا الاسلام ونشروه بین العرب والاعجمین اما بعد قال الله تعالی: (رَضِيَ اللَّهُ عَنهُم ورَضوًا عَنه) وقال رسوالله ﷺ (عَلَیکُم بِسُنّي و سُنّه الخُلَفَاء الرَّاشِدِین المَهدیِّین عَضُّوا عَلَیهَا بِالنَّوَاجِذ)**

بزرګا سزد ګرکنی افتخــــار　　　　که بی شک جهان راتوبی مفتخر

ترا صدق بوبکر وعلم علی　　　　تر افضل عثمان وعــــدل عمر[1]

خلفاي راشدين، د دين بيرغونه، د نبي كريمﷺ سره مينه كوونكي، هغه څوک چې هغوي ته په جنت فردوس سره زيري وركړل شوي ده.

څه ووايو، څه وليكي شو د هغو كسانو په اړه چې فكر مو د دوي د فضلتونو په فكر كې ډوب وي، او د هغوي د فضلتونو او نيكو صفاتو له بيانولو څخه عاجز پاتي وي. د خلفاي راشدينو لپاره اللهﷻ په خپل مقدس كتاب كې په كراتو كراتو او نبي كريمﷺ په خپلو مباركو احاديثو كې چې كوم فضلتونه بيان كړي دي د بل هيچا لپاره ثابت نه دي. خلفاي راشدينو دنبي كريمﷺ په ملګرتيا او د اسلام او مسلمانانو په مرسته او كومک كې داسي قرباني وركړي دي چې ساري په تاريخ كې نه ليدل كيږي. په دې لار كې هغو ي په خپل ځان مال او آولاد هم دريغ ونه كړ ، تر څو د اسلام مبارک دين د نړۍ تر لري لري نقطو پوري ورسوي او د نړۍ خلک د ظلم، جهل او ناپوهي له دښتو څخه د هيدايت او كاميابي په لور وګرځوي. دوي په دې لار كې غوره لقبونه ترلاسه كړي وه، هغه مقام ته رسيدلي وه چې اللهﷻ او نبي كريمﷺ توصيف او ستاينه كوله.

د نبي كريمﷺ ټول صحابه كرامو خاصة خلفای راشدين د هغو تكليفونو په باره كې چې د اسلام په لار كې تير كړي وه دغه مقامونه او منزلت ترلاسه كړي وه.

د خلفاي راشدينو هغه اعبتار او فضلت چې په نورو صحابه كرامو باندې يې درلوده د همدغه اعتبار په اساس د ټولو په توافق سره يو له خلفای راشدينو څخه د نبي كريمﷺ له رحلت وروسته د هغه د خليفه په توګه وټاكل شو. كه چيري څوک په خلفاي راشدينو باندې نيوكه كوي او يا هم د هغوي سپكاوي كوي نو په اصل دوي د قراني نصوصو او نبوي احاديثوي سپكاوي كوي. ځكه د دوي فضلتونه او درجات هم په قرانكريم هم په احاديثو كې ذكر شوی دي. كه څوک د دوي له فضايلو څخه انكار كوي نو داسي ده لكه چې له قرانكريم او احاديثو څخه منكر وي.

وركنی تكذیب اصحاب رســــــول　　　　قول پیغمبر نكرد ستی قبــــــول

ګفت هریارم چونجمی روشن است　　　　بهترین قرن ها قرن مـــــن است

بهترین خلق یاران من انــــــــــد　　　　اقربا و دوستداران من انــــــد

كی روا داری كه اصحـــــاب رسول　　　　مرد ناحق را كنند از جان قبـــول

یا نشانندش به جای مـــــــصطفی　　　　از اصحاب نیست این باطل روا

اختیار جمله شان ګرنیست راست　　　　اختیار جمع قرآن پس خطاست[2]

د نبي كريمﷺ د اصحابانو او په خاص ډول د خلفاي راشدينو پيژندنه په هر مسلمان باندې لازمه ده، خو متاسفانه نن ډيري داسي مسلمانان دي چې د دوي له فضلتونو او درجاتو څخه خبر نه دي.

د ددي په خاطر چې د خلفاي راشدينو په اړه معلومات ولرو نو دا‌مې ضرور وګڼله چې د خوږ نبيﷺ بعضي احاديثونه چې د دوي په باره كې روايت شوي دي راټول كړم، په دې برخه كې دمحترم استاد عتيق الله بن فيض محمد په مشوره په ۴۰

[1] د مسعود سعد سليمان ديوان د رشيد ياسمي په هڅه (۲۰۱)
[2] منطق الطير عطار

(c) ketabton.com: The Digital Library

حدیثونو باندې اکتفا شو یده چې د هر خلیفه په باره کې ۱۰ حدیثونه رانقل شوي دي. دغه حدیثونه مې په دې رساله کې چې د اربعین خلفاي راشدینو په نوم ده راټول کړل او د محترمو لوستونکو خدمت ته مې وړاندې کړل.

زه هیله لرم چې ما او ګرانو لوستوونکو ته به الله ﷻ اجر راکړي او ما ته ددې توفیق راکړي چې د نبی کریم ﷺ له سنتو او د هغه د یارانو له سنتو څخه پیروي وکړم.

عبدالوکیل ناجح

ژمی۱۳۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن خبرې

دا کتاب " اربعین خلفاي راشدین" هغه ټولګه ده چې پکې د بشریت د ستر لاربښود حضرت محمدﷺ د خلیفه ګان فضایل بیان شوي دي. د هر خلیفه اړوند لس حدیثونه رانقل شوي دي چې ټول  څلویښت حدیثونه کیږي.

د دې کتاب د ژباړلو موخه دا وه تر څو مسلمانان د خلفاي راشدینو له فضایلو څخه خبر شي، خپل ځان او خپله ټولنه په داسي ډول جوړه کړي لکه څنګه چې د خلفاي راشدینو په وخت کې شتون درلوده. هر مومن مسلمان باید د دې کوښښ وکړي چې د خلفاي راشدینو په پل باندې پل کیږدي د هغوي افعال او اقول په بشپړ ډول عملي کړي.

زه د اللهﷻ شکر آدا کوم چې ماته یې د دې اړین او مهم کتاب د ژباړلو وس راکړ چې پښتو ژبې ته یې راوژباړم،  که په ژباړه کې رانه کومه تیروتنه شوي وي لومړي له اللهﷻ او بیا له تاسو درنو لوستونکو څخه ښښنه غواړم هیله ده چې په راتلونکې کې راسره شریکه کړي نور خپلې خبرې ختموم او تاسو د کتاب لوستلو ته رابولم.

**ډیره مینه او درنښت**

**ضیاءالرحمن ذهین**

**خوست -۱۴۰۳/۶/۸**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ برخه

## دحضرت ابوبکرصدیقرض فضلتونه

**نوم:** عبدالله

**کنیه:** ابوبکر

**لقب:** صدیق

**دپلارنوم:** ابي قحافه

**دمور نوم:** سلمي بنت صخر

**د مور لقب:** ام الخیر

د حضرت ابوبکر صدیقرض د نسب شجره په مره کې له نبي کریمﷺ سره یوځای کیږي.[1]

حضرت ابوبکر صدیقرض په ۵۷۳ م کال کې دې نړۍ ته سترګې غړولي دي، لومړنی کس و چې په نبي کریمﷺ باندې ایمان راوړ. کله چې نبي کریمﷺ له دې نړۍ څخه رحلت وکړ، ابوبکر صدیقرض د مسلمانانو خلیفه وټاکل شو. د دوه کالو او دوه میاشتو په موده کې د اسلام او مسلمانانو لپاره نه هیریدونکې خدمتونه ترسره کړې، په داسي حال کې چې دمرتدینو لخوا څخه له ګڼو فتنو سره هم مخ وه. بلاخره په دریارلسم هجري کال د جمادی الثاني په ۲۳ د ۶۳ کلو په عمر له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او مبارک جسد یې دنبي کریمﷺ ترڅنګ خاورو ته ورسپارل شو.

### له ابوبکر صدیقرض سره د اللهﷻ ځانګړي ملګرتیا

**۱)عن اَنَس بن مَالِکِ، أَنَّ أَبَابَکرِ الصَّدِّیقَ، حَدَّثَهُ قَالَ: نَظَرتُ اِلَی أَقْدَامِ المُشرِکِینَ عَلَی رُءُوسِنَا وَ نَحنُ فِی الغَارِ، فَقُلتُ: یَا رَسُولَ اللّهِ لَو أَحَدَهُم نَظَرَ اِلَی قَدَمَیهِ أَبصرَنَا تَحتَ قَدَمَیهِ، فَقَالَ: یَا أَبَابَکرمَا ظَنُّکَ بِاثنَینِ اللّهُ ثَالِثُهُمَا.**

له انس بن مالک څخه روایت ده وایي چې مونږ کله په غار کې وه د مشرکینو پښې مې ولیدلې چې د غار تر خولې پورې رارسیدلي وو، نبي کریمﷺ ته مې وویل: یارسول الله که چیرې یو له مشرکینو څخه ټیټ راوګوري نو مونږ به ووینې رسول اللهﷺ راته وفرمایل: څه ګمان کوې د هغو دوه کسانو په اړه چې دریم یې الله متعال وي.[2]

**تشریح:** له پورتني حدیث نه څرګندیږي چې اللهﷻ له نبي کریمﷺ او ابوبکر سره ځانګړي ملګرتیا درلوده په داسي حال کې چې اللهﷻ له ټولو سره ملګری ده. **(إذ یَقُولُ لِصَاحِبِهِ لا تَحزَن اِنَّ اللهَ مَعَنَا)** کله چې نبي کریمﷺ خپل ملګري ته وویل: مه ویریږه اللهﷻ له مونږ سره دي.

### د نبي کریمﷺ او ابوبکر صدیقرض خالصه مینه او دوستي

**۲) عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللہ عَنهُمَا قَالَ: (خَرَجَ رَسُولُ اللّهﷺ فِی مَرَضِهِ الَّذِی مَاتَ فِیهِ، عَاصِباً رَأسَهُ بِخِرقَهٍ، فَقَعَدَ عَلَی المِنبَرِ فّحَمِدَاللّهَ وَ أَثنَی عَلَیهِ ثمَّ قَالَ: اِنَّهُ لَیسَ مِنَ النَّاس أَحَدً أَمَنَّ عَلَیَّ فِی نَفسِهِ وَ مَالِهِ مِنَ أَبِی بکرٍ خَلِیلاً، وَلَکنِ خُلَّه الاِسلامِ أَفضَلُ، سُدُّوا عَنَّی کُلَّ خَوخَهٍ فِی هَذَا المَسجِدِ غَیرَ خَوخَه أَبِی بَکرٍ)**

[1] ابوبکر صدیق، صلابي (۲۹)
[2] مسلم (۲۳۸۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ابن عباس څخه راویت ده چې نبي کریمﷺ د مرګ د ناروغي پرمهال چې سر مبارک یې په یو تیکه باندې تړلی وه مسجد ته راغی، په ممبر باندې کیناسته د رب تعالی له حمد او ثنا وروسته یې داسي وفرمایل: هغه ابوبکر د ابي قحافه زوی چې له ټولو خلکو نه مخکې په مال او ځان سره په ما ډیر احسانونه کړي دي. که چیري زه د خلکو په منځ کې خپل ځانګړی دوست په ګوته کوم نو هغه به له ابوبکر پرته بل څوک نه وي، مګر د اسلام مینه بهتره او پایداره ده. وروسته یې وویل: هغه کومې کړکۍ چې مسجد ته راخلاصي دي ټولې وتړي، بغیر د ابوبکر صدیقرض د کور له کړکۍ څخه.[1]

**تشریح:** دلته (**أَمَنَّ عَلَیَّ**) نه مطلب یعني سخي او بخشش کوونکي پر ما باندې.

له پورتني حدیث نه څرګندیږي چې نبي کریمﷺ له حضرت ابوبکر صدیقرض سره څومره مینه درلوده او د نبي کریمﷺ په وړاندې یې کوم مقام درلوده، همدارنګه د نبي کریمﷺ له رحلت وروسته د خلافت منسب ته د ابوبکر صدیق لیاقت هم څرګندوي چې نور له دې فضلت څخه برخمن نه وه. همدارنګه نبي کریمﷺ هغه په خپل ځان باندې احسان کوونکې ګڼه او له نور څخه یې زیاته مینه ورسره درلوده، نو ښکاره خبره ده چې له ابوبکرصدیق پرته نور څوک د خلافت لپاره مناسب نه وه.

## د نبي کریمﷺ په وړاندې محبوب ترین شخص حضرت ابوبکرصدیقرض وه

**۳) عَن عَمرِو بنِ العَاصِرض: أَنَّ النَّبِیَّﷺ بَعَثَهُ عَلَی جَیشِ ذَاتِ السُّلاسِلِ، فَأَتَیتُهُ فَقُلتُ: أَیُّ النَّاسِ أَحَبُّ اِلَیکَ؟ قَالَ: [عَائِشَه] فَقُلتُ: مِنَ الرِّجَالِ فَقَالَ: [أَبُوهَا] قُلتُ: ثُمَّ مَن؟ قَالَ: [ثُمَّ عُمَرُ بنُ الخَطَّابِ] فِعَدُّ رِجَالاً.**

له عمرو بن عاصرض څخه روایت ده چې وایي نبي کریمﷺ زه د ذات السلاسل سریه قومندان وټاکلم، زه د نبي کریمﷺ حضور ته ورغلم پوښتنه مې تري وکړه. ستا په وړاندې محبوب ترین کس څوک ده؟ راته وفرمایل: عائشهرض. بیا مې ورته وویل: په نارینه و کې؟ راته وفرمایل: د عائشی بی بی پلار. بیا مې ورته وویل؟ له هغه وروسته راته وفرمایل: حضرت عمر بن الخطاب او څو نفره نور.[2]

## حضرت ابوبکر صدیقرض قرباني ورکوونکې صحابي وو

**۴) عَن أَبِي هُرَیرَه قَالَ:قَالَ رَسُولُ اللّهِﷺ:(مَا نَفَعَنِی مَالٌ قَطُّ مَا نَفَعَنِی مَالُ أَبِی بَکرٍ)، فَبَکَیٰ أَبُوبَکرٍ وَقَالَ (وَ هَل أَنَا وَ مَالِی اِلَّا لَکَ یَا رَسُولَ اللّهِ)؟**

له ابو هریرهرض څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: هیڅ کله د چا مال او دولت ماته دومره ګټور نه وو لکه څنګه چې د حضرت ابوبکر صدیقرض وو. ابوبکر صدیق په ژړا سو وویل: آیا له دې پرته بل څه شته؟ داچې زه او زما مال ستا دي یارسول الله.[3]

**تشریح:** پورتني حدیث ښه ډاګه څرګندوي چې د نبي کریمﷺ لپاره ابوبکرصدیقرض څه ډول غیري معمولي قرباني ورکړې ده. په داسي حال کې چې ټولو صحابه کرامو په بیلا بیلو برخو کې قربانۍ ورکړي، خو نبي کریمﷺ په دې کار کې د ابوبکرصدیق قرباني او ځان ځاروني ته ځانګړي مقام ورکړي وه. له بیلا بیلو واقعو څخه دا معلومیږي چې د قرباني او ځان ځاروني په برخه کې هیڅ یو صحابي هم د ابوبکر صدیقرض ځای ته نه رسیږي.

## حضرت ابوبکر صدیقرض د جنت له ټولو دروازو څخه دعوت شوي ده.

**۵)عَن أَبِي هُرَیرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ قَالَ ( فَمَن کَانَ مِن أَهلِ الصَّلاۀ دُعِیَ مَن بَابِ الصَّلاۀ، وَ مَن کَانَ مِن أَهلِ الجِهَادِ دُعِیَ مِن بَابِ الجِهَادِ، وَمَن کَانَ مِن أَهلِ الصَّیَامِ دُعِیَ مِن بَابِ الرَّیَّانِ، وَمَن کَانَ مِن أَهلِ الصَّدَقَۀ**

---

[1] بخاری (۴۶۷) + ترمذی (۸۱۰۲)
[2] بخاری (۳۶۶۲) + مسلم (۶۳۲۸)
[3] مسند احمد (۷۴۴۶) + صحیح ابن حبان (۶۸۵۸) + سنن ابن ماجه (۹۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دُعِیَ مِن بَابِ الصَّدَقَۀ)، فَقَالَ أَبُوبَکرٍ: بِأَبِی أَنتَ وَ أُمِّی یَا رَسُولَ اللَّهِ! مِا عَلَی مَن دُعِیَ مِن تِلکَ الأَبوَابِ مِن ضَرُورَۀ، فَهَل یُدعَی أَحَدٌ مِن تِلکَ الأَبوَابِ کُلِّهَا، قَالَ: (نَعَم وَ أَرجو أَن تَکُونَ مِنهُم).**

له ابو هريره نه روايت ده چې نبي کريمﷺ وفرمايل: که څوک لمونځ کوونکي وي هغه به دلمانځه له دروازې څخه جنت ته داخليږي. که څوک اهل د جهاد وي هغه د جهاد له دروازې څخه جنت داخليږي. که څوک اهل د روژې وي هغه له باب الريان څخه جنت ته داخليږي، او که څوک اهل د صديقې وي هغه د صديقې له دروازې څخه جنت ته داخليږي. ابوبکررض وفرمايل: مور او پلار مې له تا څخه قربان يا رسول الله! کوم کسان چې له دغو دروازو څخه جنت داخليږي د هغه عمل په مقابل کې چې تر سره کړي يې ده غوښتل کيږي. ايا داسي څوک به هم وي چې له ټولو دروازو څخه ورته د بلنې آواز وشي؟ هو زه هيله لرم چې ته يو له هغو کسانو څخه اوسي.[1]

## ابوبکر صديقرض د نبي کريمﷺ هميشني ملګري وو

**۶) عَنِ ابنِ عُمَررض قَالَ: دَخَلَ النَّبِیُّﷺ المَسجِدَ وَ أَبُوبَکرٍرض عَن یَمِینِهِ، وَعُمَرُرض عَن یَسَارِهِ، فَقَالَ: (هَکَذَا نُبعَثُ یَومَ القِیَامَه).**

له ابن عمر څخه روايت ده چې رسول اللهﷺ په داسي حال کې مسجد ته را داخل شو چې ښي اړخ ته يې ابوبکررض او چپ اړخ ته عمررض وه. وروسته نبي کريمﷺ وفرمايل: مونږ به د قيامت په ورځ هم همداسي حشر کيږو.[2]

**تشريح:** له پورتنيو حديثونو څخه د ابوبکر صديقرض او عمر فاروقرض جنت ته تلل ثابت شوي دي. همدارنګه لکه څنګه چې هغوي په دونيا کې د نبي کريمﷺ ملګري وه همداسي به په اخرت کې هم ورسره ملګري وي.

## ابوبکر صديقرض او عمر فاروقرض بهترين اصحابان وو

**۷) عَن أَبِی سَعِیدٍرض قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهﷺ (اِنَّ أَهلَ الدَّرَجَاتِ العُلَی لَیَرَاهُم مَن تَحتَهُم کَمَا تَرَونَ النَّجمَ الطَّالِعَ فِی أُفُقِ السَّمَاءِ وَ اِنَّ أَبَابَکرٍ وَ عُمَرَ مِنهُم وَ أَنعَمَا).**

له ابو سعيد څخه روايت ده  چې نبي کريمﷺ فرمايل: په حقيقت کې د لوړو مرتبو او درجو خاوندان له دوي څخه ټيټ کسان ګوري، لکه څنګه چې تاسي د اسمان په اُفق کې ځليدونکي ستوري ګوري، په حقيقت کې ابوبکر صديق او عمر د همغو ستورو په شان دي بلکې په مرتبو کې تر هغو هم بهتره دي.[3]

## حضرت ابوبکر صديقرض دخلافت لپاره وړ شخصيت وو

**۸) عَن حُذَیفَه بَن الیَمَانرض قَال: قَالَ رَسُولُ اللَّهِﷺ: (اِنِّی لا أَدرِی مَا قَدرَ بِقَائِی فِیکُم. فَاقتَدُوا بِغالَّذِینِ مِن بَعدِی) وَ أَشَارَ اِلَی أَبِی بَکرٍ وَعُمَر).**

له حذيفه بن اليمانرض څخه روايت ده چې نبي کريمﷺ وفرمايل: په دې خبر نه لرم چې څومره وخت به ستاسي په منځ کې يم، نو په هغو کسانو پسي اقتدا وکړي چې تر ما وروسته راځي په دې وخت کې د ابوبکر او عمر په لور اشاره وکړه.[4]

## د خلافت لپاره له ابوبکر صديقرض پرته بل څوک د منلو وړ نه ده

**۹)عَن عَائِشَه قَالَت: ( قَالَ لِی رَسُولُ اللَّهِﷺ فِی مَرَضِهِ، ادعِی لِی أَبَابَکرٍ وَأَخَاکِ حَتَّی أَکتُبَ کِتَابًا فَاِنِّی أَخَافُ أَن یَتَمَنَّی مُتَمَنَّ وَیَقُولَ قَائِلٌ أَنَا أَولَی. وَیَأبَی اللَّهُ وَالمُؤمِنُونَ اِلاَّ أَبَابَکرٍ).**

---

[1] بخاری (۱۸۹۷)
[2] الترمذی (۳۶۶۹) + ابن ماجه (۹۹)
[3] الترمذی (۳۶۸۵) + ابن ماجه (۹۶)
[4] الترمذی (۳۶۶۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له عائشي رضی الله عنها څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ د مرګ د ناروغي پرمهال راته ویل: ابوبکر او ورور دې راوغواړه تر څو د ابوبکر د خلافت په اړه یو څه ولیکم. زه ویره لرم چې هر هیله کوونکي به دا هیله وکړي او هر ویوونکي به دا وواېي چې د خلافت لپاره زه مناسب یم په داسي حال کې چې اللهﷻ او مسلمانان له ابوبکر پرته د بل چا خلافت ردوي.[1]

**تشریح:** د پورتنیو دوه حدیثونو تفسیر د روافضو هغه ادعا رودي چې وایي، له نبي کریمﷺ څخه وروسته هیڅ څوک د خلافت د منصب لایق نه وو بغیر د علیرض څخه، ابوبکرصدیق او عمر فاروق د خلافت د منصب غاصبین دي. مګر پورتني حدیث د ابوبکرصدیق د خلافت ښکاره دلیل دي.

## په حضرت ابوبکر صدیقرض کې د نیکو اعمالو ټولیدل او د هغه جنت ته داخلیدل

**۱۰) عَن أَبِی هُرَیرَهرض قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِﷺ (مَن أَصبَحَ مِنکُمُ  الیَومَ صَائِمًا؟) قَالَ أَبوبَکرٍ: أَنَا، قَالَ: ( فَمَن تَبِعَ مِنکُمُ الیَومَ جَنَازَه؟) قَالَ أَبوبَکرٍ: أَنَا، قَالَ: ( فَمَن أَطعَمَ مِنکُمُ الیَومَ مِسکِینًا؟) قَالَ أَبوبَکرٍ: أَنَا، قَالَ: ( فِمَن عَادَ مِنکُمُ الیَومَ مَرِیضًا؟) قَالَ أَبوبَکرٍ: أَنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِﷺ: ( مَا اجتَمَعنَ فِی امرِئٍ، اِلَّا دَخَلَ الجَنَّةَ).**

له ابی هریرهرض څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: کوم کس له تاسو څخه نن روژه نیولي ده؟ ابوبکر وویل(ما). بیا نبي کریمﷺ وفرمایل کوم کس له تاسو څخه نن جنازه دفن کړي ده؟ ابوبکر وویل(ما). بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل کوم کس له تاسو څخه نن فقیر ته ډوډۍ ورکړي ده؟ ابوبکر وویل(ما). بیا نبي کریمﷺ وفرمایل کوم کس له تاسو څخه نن د مریض پوښتنه کړي ده؟ ابوبکر وویل(ما). وروسته نبي کریمﷺ وفر مایل: دغه صفتونه په هیچا کې نه راټولیږي مګر، داچې جنت ته د هغه د داخلیدو سبب شي.[2]

[1] مسلم (۲۳۴۲)
[2] مسلم (۱۰۸۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهمه برخه

## د حضرت عمر فاروق رض فضلتونه

**نوم:** حضرت عمر رض

**کنیه:** ابوحفص

**لقب:** فاروق

**د پلار نوم:** خطاب بن نفیل[1]

**د مور نوم:** حنتمه بنت هاشم

د حضرت عمر رض د نصب شجره په کعب کې له نبي کریمﷺ سره یوځای کیږي.[2] حضرت عمر رض د عام الفیل په ۱۳ کال دې نړۍ ته سترګې غړولي دي.[3] د ۲۷ کلو په عمر د بعثت په شپږم کال د اسلام په مبارک دین مشرف شو چې په دې وخت د مسلمانانو شمیر ۳۹ تنه وه خلویښتم کس حضرت عمر فاروق رض سو.

کله چې د حضرت ابوبکر صدیق رض د وفات وخت رانږدې شو نو حضرت عمر رض ته یې د هغه د شجاعت او عدالت په خاطر د خلافت وړاندیز وکړ. د حضرت عمر رض خلافت په موده کې زیاتې ځمکې د اسلام په نور روښانه شوې او د اسلام مبارک دین ته یې د عربو له جزیرې څخه بهر پرخوالي ورکړ.

حضرت عمر رض د لس کاله او شپږ میاشتې خلافت وروسته په ۲۳ هجري کال د ذی الحجې په ۲۶ نېټه د ۶۳ کلو په عمر د سهار د لمانځه پرمهال د ابو لولو خبیث لخوا څخه په مهراب کې زخمي او وروسته له پنځو ورځو په شهادت ورسیده او جسد مبارک یې د حضرت نبي کریمﷺ او ابوبکرصدیق رض ترڅنګ خاورو ته وسپارل شو.

### د الله ﷻ له لوري د اسلام لپاره د حضرت عمر رض ټاکل

**۱) عَنِ ابنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولُ اللَّهِﷺ قَالَ:( اللَّهُمَّ أَعِزَّالِاسلَامَ بِأَحَبَّ هَذَينِ الرَّجُلَينِ اِلَيکَ بِأَبِي جَهلٍ، أَوبِعُمَرَ بنِ الخَطَّابِ). قَالَ: فَکَانَ أَحَبَّهُمَا اِلَيهِ عُمَرُ بنُ الخَطَّابِ.**

له ابن عمر رض څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ داسې دوعا وفرمایله: خدایه اسلام ته یو په دغو دواړو باندې چې یو ابوجهل بن هشام او بل عمر بن خطاب ده، کوم چې ستا په نزد محبوب وي عزت وروبښې. ابن عباس رض فرمایي محبوب ناک له دغو دواړو د الله ﷻ په نزد عمر رض وه چې په وسیله یې اسلام عزت پیدا کړ.[4]

### د الله ﷻ او حضرت عمر رض ترمنځ تړون

**۲) عَنِ ابنَ عُمَرَ رض قَالَ: قَالَ عُمَرَ رض: وَافَقتُ رَبّي فِي ثَلَاثٍ: فِي مَقَامِ اِبرَاهِيمَ، وَفِي الحِجَابِ، وَفِي أُسَارَى بَدرٍ.**

له ابن عمر رض څخه روایت ده چې حضرت عمر فاروق رض وفرمایل: ما له خپل رب سره په دریو موضوعاتو کې توافق کړی ده. د ابراهیم ع په مقام، په حجاب او د بدر په زندانیانو.[5]

---

[1] نسب قریش، زبیری (۳۴۷)
[2] عمر بن خطاب، صلابی (ص۳۷) ترجمه عبدالله ریگی
[3] تاریخ الخلفاء، سیوطی (۱۳۳)
[4] ترمذی (۳۶۸۱)
[5] بخاری، کتاب التفسیر (۴۴۸۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د حضرت عمر فاروق رض پرهیزګاري

**۳) عن أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رض أن رَسُولُ اللهِ ﷺ قَالَ: ( بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ، رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُونَ وَ عَلَيْهِمْ قُمُصٌ، مِنْهَا مَا بَيْلُغُ الثُّدِيَّ وَ مِنْهَا مَا بَيْلُغُ دُونَ ذَلِکَ وَمَرَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ يَجُرُّهُ) قَالُوا: مَاذَا أَوَّلْتَ ذَلِکَ يَا رَسُولَ اللهِ ﷺ؟ قَالَ: (الدِّينَ).**

له ابی سعید خدري رض ښخه روایت ده چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د خوبونو په نړۍ کې ماته داسي کسان وړاندې شول چې کميسونه يې پرتن وه، د ځينو کميسونه تر سينو پوري رسيدل خو د ځينو تر دې هم لنډ وه. حضرت عمرفاروق رض په داسي حال کې تير شو چې کميس يې لېر له ځمکي پورته وه. صحابه کرامو پوښتنه وکړه يا رسول الله ﷺ د دې تعبير څه دي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: پرهيزګاري[1]

**تشریح:** له پورتني حديث څخه د حضرت عمر فاروق رض پرهيزګاري نظر نور ته څرګنديږي، هغه تر بل هر چا پرهيزګاره او ديندارە وه.

## د حضرت عمر رض علم او ذکاوت

**۴) عَن عَبدِاللَّهِ بنَ عُمَرَ، عَن أَبِيهِ قَالَ: سَمِعتُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ( أُتِيتُ وَ أَنَا نَائِمٌ بِقَدَحٍ مِن لَبَنٍ، فَشَرِبتُ مِنهُ حَتَّى جَعَلَ اللَّبَنُ يَخرُجُ مِن أَظفَارِی، ثُمَّ نّاوَلتُ فَضلِی عُمَرَ بنَ الخَطَّابِ)، فَقَالُو يَا رَسُولُ اللَّهِ، فَمَا أَوَّلتَهُ؟ قّالَ: (العِلمُ).**

له عبدالله بن عمر رض ښخه روایت ده چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: په خوب کې راته يو پياله شيدي راکړل شوي هغه مې وڅښلي تر دې چې ښه موړ شوم او د مړښت اثرات زما د نوکانو لاندې څرګند شو، وروسته چې څومره پاتي شوي هغه مې عمر بن خطاب ته ورکړي. صحابه کرامو عرض وکړ يا رسول الله ﷺ ستا د دې خوب تعبير څه دي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: علم[2]

**تشریح:** پورتني احاديث هغه عقايد او افکار رودي او له منځه وړي چې وايي حضرت عمر رض په شرعي مسائل کې پوهه نه درلوده، په داسي حال چې هغه په شرعي مسائلو کې ناپوهه نه وه، بلکي د نبي ﷺ د وينا په اساس حضرت عمر رض پوهه، عالم او فقهي صحابي وه.

## حضرت عمر رض د حقيقتونو سرچينه وه

**۵) عَن ابنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قّالَ: ( اِنَّ اللَّهَ جَعَلَ الحَقَّ عَلَى لِسَانِ عُمَرَ وَقَلبِهِ).**

له ابن عمر رض ښخه روایت ده چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ د حضرت عمر رض په زړه او ژبه کې حق ځای پر ځای کړي ده.[3]

## د پيغمبري لپاره د حضرت عمر رض وړتيا

**۶)عَن عُقبَةَ بنِ عَامِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ ( لَوکَانَ نَبِیُّ بَعدِی لَکَانَ عُمَرَ بنَ الخَطَّابِ).**

له عقبه بن عامر رض ښخه روايت ده چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: که چيري له ما څخه وروسته بل پيغمبر مبعوث کيدلي هغه به عمر بن خطاب وه.[4]

---

[1] مسلم (۲۳۹۰)
[2] مسلم (۲۳۹۲) + مسند احمد (۶۱۴۲) + ترمذی (۳۶۸۷) + سنن نسائی (۷۵۹۱)
[3] ترمذی (۳۶۸۲) + مسند احمد (۵۱۴۵)
[4] ترمذی (۳۶۸۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## حضرت عمرؓ یو الهامي شخصیت وه

**۷) عَن أَبِي هُرَيرَه، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّﷺ:( لَقَد كَانَ فِيمَن كَانَ قَبلَكُم مِن بَنِى اِسرَائِيلَ رِجَالٌ، يُكَلَّمُونَ مِن غَيرِ أَن يَكُونُوا أَنبِيَاءَ، فَاِن يَكُن مَن أُمَّتِى مِنهُم أَحَدٌ فَعُمَرُ).**

له ابوهریرهؓ څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: د بني اسرایلو منځ کې چې له تاسو څخه یې مخکې ژوندکې کړې ده داسې کسانو شتون درلوده چې هغه پیغمبران نه وه مګر هغوي ته الهام کیده او له هغوي سره خبرې کیدلې. که چیرې زما په امت کې یو له هغو کسانو نه شتون درلودې هغه به عمرؓ وه.[1]

## له حضرت عمرؓ څخه د شیطانانو تیښته

**۸) عَن سعد بن ابِى وقاصؓ قَالَ: اِستَأذَنَ عُمَرُ عَلَى رَسُولِ اللهِﷺ وَعِندَهُ نِسَاءٌ مِن قُرَيشٍ يُكَلِّمنَهُ وَيَستَكثِرنَهُ، عَالِيَةً أَصوَاتُهُنَّ، فَلَمَّا استَأذَنَ عُمَرُ قُمنَ يَبتَدِرنَ الحِجَابَ، فَأَذِنَ لَهُ رَسُولُ اللهِﷺ، وَرَسُولُ اللهِﷺ يَضحَكُ، فَقَالَ عُمَرُ: أَضحَكَ اللهُ سِنَّكَ، يَا رَسُولَ اللهِﷺ فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺ: (عَجِبتُ مِن هَؤُلَاءِاللَّاتِى كُنَّ عِندِى، فَلَمَّا سَمِعنَ صَوتَكَ ابتَدَرنَ الحِجَابَ) قَالَ عُمَرُ: فَأَنتَ، يَا رَسُولَ اللهِﷺ أَحَقُّ أَن يَهَبنَ، ثُمَّ قَالَ عُمَرُ: أَى عَدُوَّاتِ أَنفُسِهِنَّ أَتَهَبنَنِى وَلَا تَهَبنَ رَسُولَ اللهِﷺ؟ قُلنَ: نَعَم، أَنتَ أَغلَظُ وَأَفَظَّ مِن رَسُولِ اللهِﷺ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ: (وَالَّذِى نَفسِى بِيَدِهِ مَا لَقِيَكَ الشَّيطَانُ قَطُّ سَالِكًا فَجًّا اِلَّا سَلَكَ فَجًّا غَيرَ فَجِّكَ).**

له سعد بن ابی وقاصؓ څخه روایت ده چې د قریشو څو ښځې له نبي کریمﷺ سره ناستې وې، له هغه مبارک سره یې په لوړ آواز خبرې کولې دوې په خبرو کې زیاتې کاوه، چې ناڅاپه حضرت عمرؓ د داخلیدو اجازه وغوښته په دې وخت کې ښځو ځانونه سره برابر کړل په داسې حال چې نبي کریمﷺ خندل، حضرت عمرؓ ته یې د داخلیدو اجازه ورکړه. حضرت عمرؓ ورته وویل: څه شوي یا رسول الله؟ خداې تعالیﷻ دې تا همیشه خوشحاله لري. نبي کریمﷺ وفرمایل زه دې ښځو ته چې زما په وړاندې حضور لري حیران یم، کله یې چې ستا آواز واوریده ستر یې وکړ. عمرؓ ورته وویل دا مناسبه ده چې له تا څخه ډیرې وویریږي. وروسته یې ښځو ته وویل: ای د ځان دوښمنانو! له ما څخه ویریږې او له نبي کریمﷺ څخه نه ویریږې. ښځو ورته وویل: هو تاسو ډیر سخت او غوسناک یاستې. دلته نبي کریمﷺ وفرمایل قسم په هغه ذات چې زما روح یې په لاس کې ده، هیڅکله به شیطان ستاسو څخه تیر نشي هغه هیڅ لاره نه ویني بغیر له دې څخه چې له تاسو پرته بله لاره غوره کړي.[2]

**تشریح:** له پورتني حدیث څخه په دینی چارو کې د عمرؓ مکلفیت څرګندیږي. تر دې چې ښځو د نبي کریمﷺ په نسبت له عمرؓ څخه زیاته ویره درلوده همدارنګه پورتني حدیث د شیطان ویره او لرې والې له حضرت عمرؓ څخه روښانه کوي، چې شیطانانو څومره ویره او ترس له عمرؓ څخه درلوده. یعني هیڅکله به شیطان په هیڅ شي کې عمرؓ ته د نژدې کیدلو جرأت نه درلوده.

## حضرت عمرؓ د خپل عصر نابغه وه

**۹) عَن ابِى هُرَيرَةَؓ قَالَ: سَمِعتُ رَسُولَ اللهﷺ يِقُولُ: ( بَينَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيتُنِى عَلَى قَلِيبٍ، عَلَيهَا دَلوٌ، فَنَزَعتُ مِنهَا مَا شَاءَاللهُ، ثُمَّ أَخَذَهَا ابنُ أَبِى قُحَافَةَ فَنَزَعَ بِهَا ذَنُوبًا أَو ذَنُوبَينِ، وَفِى نَزعِهِ، وَاللهُ يَغفِرُلَهُ، ضَعفٌ، ثُمَّ استَحَالَت غَرَبًا، فَأَخَذَهَا ابنُ الخَطَّابِ، فَلَم أَرَ عَبقَرِيًّا مِنَ النَّاسِ يَنزِعُ نَزعَ عُمَرَ بنِ الخَطَّابِ، حَتَّى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ).**

---

[1] بخاری (۳۶۸۹) + مسلم (۲۳۹۲)

[2] مسلم (۲۳۹۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ابو هريرهرض څخه روايت ده چې له پيغمبرﷺ څخه مې وواريدل چې فرمايل يې: خوب مې ليده چې د يو کوهي په سره ولاړ يم څومره چې داللهﷻ غوښتنه وه هغومره اوبه مې راويستلې په دې کې د ابی قحافه زوي ابوبکررض دولچه رانه واخيسته يو يا دوه دولچې اوبه يې راويستلې، د اوبو رايستلو پرمهال يې بدن يو ډول ضعيفي درلوده اللهﷻ ورته مغفرت وکړي، وروسته عمررض هغه دولچه واخيسته هغه کوچنۍ دولچه يې په لاس په لوي دولچې سره تبدله شوه. ما د خلکو په منځ کې هيڅ  داسي با استعداده شخص ونه ليده چې دا ډول اوبه له کوهي څخه راوباسي تر دې چې ټول خلک او حيوانات په اوبو ماړه او بيرته خپل د ارام ځايونو ته وګرځيدل.[1]

**تشريح:** د حضرت ابوبکررض د خلافت موده لنډه وه او زياتره له مرتدينو سره په جګړو لګيا وه، له سرحداتو بهر يې دومره فتوحات نه درلودل خو د عمررض د خلافت په دوران کې ډير فتوحات لاسته راغلل په شمول د ايران او روم او هغه فتوحات چې ابوبکرصديقرض شروع کړی وو په نيمايې کې پاتې وه هغه يې هم پای ته ورسول چې داد عمررض د هوښيارتيا څرګندونه ده.

## حضرت عمر رض په جنت کې د مانۍ څښتن

**١٠) عَن جَابِرِ بنِ عَبدِاللهِ رَضِىَ اللهُ عَنهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِیُّﷺ: (رَأَيتُنِى دَخَلتُ الجَنَّةَ، فَاِذَا أَنَا بِالرُّمَيصَاءِ، امرَأَةِ أَبِى طَلحَه، وَسَمِعتُ خَشَفَةً، فَقُلتُ: مَن هَذَا؟ فَقَالَ: هَذَا بِلاَلٌ، وَرَأَيتُ قَصرًا بِفِنَائِهِ جَارِيَةً، فَقُلتُ: لِمَن هَذَا؟ فَقَالَ: لِعُمَرَ، فَأَرَدتُ أَن أَدخُلَهُ فَأَنظُرَ اِلَيهِ، فَذَکَرتُ غَيرَتَکَ). فَقَالَ عُمَرُ: (بِأَبِى وَأُمِّى يَا رَسُولَ اللهِ أَعَلَيکَ أَغَارُ).**

له حضرت جابر بن عبداللهرض څخه روايت ده چې رسول اللهﷺ وفرمايل: په خوب کې مې وليدل چې جنت ته داخل شوي يم هلته مې د ابوطلحه ميرمن رميصاء وليده او د پښو غږ مې وواريده پوښتنه مې وکړه، دا د پښو غږ د چا دي. ملايکې راته وويل: د بلال دي. وروسته مې هلته يو مانۍ وليده چې په حويلي کې يې يو پيغله ناسته وه پوښتنه مې وکړه دا دچا دي راته وويل شو د عمررض دي. غوښتل مې ورداخل شم او هغه ووينم خو ستا غيرت را په زړه شو. عمررض ورته وويل: مور او پلار مې له تا قربان يارسول اللهﷺ ايا زه تاته په غيرت کې راځم؟[2]

**تشريح:** له پورتني حديث څخه د حضرت عمرفاروقرض غيرت او ميړانه څرګنديږي تر دې چې نبي کريمﷺ هم د ده له غيرت څخه متاثره وه. همدارنګه په جنت کې د عمررض  مقام هم روښانه کوي.

[1] مسلم (٢٣٩٢)
[2] بخارى (٣۶٩٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریمه برخه

## د حضرت عثمانرض فضلتونه

**نوم:** عثمان

**کنیه:** ابو عبدالله

**لقب:** ذی النورین

**د پلار نوم:** عفان

**د مور نوم:** اروی بنت کُرَیز

د حضرت عثمانرض د نصب شجره په عبدمناف کې له نبي کریمﷺ سره یوځای کیږي.[1] حضرت عثمانرض د مور له طرفه د نبي کریمﷺ د عمه زوي او پلار له طرفه د کاکا زوي وو له بل طرفه د نبي کریمﷺ زوم هم وو، چې هغه مبارک خپلې دوه لوراني روقیه او ام کلثوم یو په بل پسي په نکاح ورکړي وي.

حضرت عثمانرض په ۵۷۲ م کال کې دې نړۍ ته سترګې غړولي دي. د نبوت په اوایلو کې د ابوبکر صدیق په واسطه د اسلام په مبارک دین مشرف شوي ده. کله چې حضرت عمر فاروقرض زخمي شو نو له صحابه کرامو څخه یې شپږ تنه مشران صحابه کرام وټاکل ترڅو په خپل منځ کې یو تن د خلیفه په توګه وټاکي چې په پایله کې عثمانرض د خلیفه په توګه وټاکل شو. د خلافت په موده کې یې ډیري قرباني ورکړي دي، د اسلام او مسلمانانو لپاره یې ډیر مالونه خرچه کړي دي، چې بلاخره له دولس کاله خلافت وروسته په ۳۵ هجري کال د ذی الحجي په ۱۸ د ۸۲ کالو په عمر د یو تعداد ګمراهانو له لخوا په شهادت ورسیده او بقیع کې خاورو ته وسپارل شو.

## حضرت عثمانرض د نبي کریمﷺ ملګري وو

**۱) عَن عَائشَه رَضِیَ اللهُ عَنهَا قَالَت: قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ فِی مَرَضِهِ: (وَدِدتُّ أنَّ عِندِی بَعضَ أَصحَابِی) قُلنَا: ( یَا رَسُولُ اللهِ! ألا نَدعُو لَکَ أبَابَکر؟) فَسَکَتَ. قُلنَا: (ألا نَدعُو لَکَ عُمَرَ؟) فَسَکَتَ، قُلنَا: (ألا نَدعُو لَکَ عُثمَان؟) قَالَ: (نعم) فَجَاءَ فَخَلَا بِهِ فَجَعَلَ النَّبِیُّ یُکَلِّمُهُ وَوَجهُهُ یَتَغَیَّرُ.**

له عائشه رضی الله عنها څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ د ناروغي پرمهال راته وویل: کاش یو له صحابه کرامو څخه مې په څنګ کې واي. ما ورته وویل: ابوبکررض راوغواړم. نبي کریمﷺ غلي پاتې شو هیڅ یې ونه ویل. بیا مې ورته وویل: عمررض راوغواړم. نبي کریمﷺ غلي پاتې شو هیڅ یې ونه ویل. بیا مې ورته وویل: عثمانرض راوغواړم. نبي کریمﷺ وفرمایل هو هغه راوغواړه بیا حضرت عثمانرض راغي له نبي کریمﷺ سره یوځای شو نبي کریمﷺ خبرې شروع کړي د څهرې مبارکې رنګ یې بدلون کاوه.[2]

## عثمانرض د خیر په کارونو مخکښ وه

**۲) قَالَ النَّبِیُّﷺ: (مَن یَحفِر بِئرَ رُومَةَ فَلَهُ الجَنَّةُ). فَحَفَرَهَا عُثمَانُ، (مَن جَهَّزَ جَیشَ العُسرَةِ فَلَهُ الجَنَّةُ) فَجَهَّزَهُ عُثمَان.**

---

[1] عثمان بن عفان، صلابی (ص۲۶) ترجمه عبدالله ریګی

[2] سنن ابن ماجه (۱۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبي کریمﷺ وفرمایل: که هرڅوا د رومه کوهي وکېنده، جنت د هغه دي نو عثمانرض هغه کوهي وکېنده. نبي کریمﷺ وفرمایل: که هرڅوا د جیش العسره (تبوک غزا) مصارف چمتو کړل جنت د هغه دي، نو عثمانرض يې له کوم ځنډڅخه هغه مصارف اماده کړل.[1]

## حضرت عثمانرض به هیڅ کله هم ضرر ونه کړي

**۳) عَن عَبدِالرَّحمَنِ بنِ سَمُرَه قَالَ جَاءَ عُثمَانُ اِلَی النَّبِیُّﷺ بِأَلفِ دینَارٍ حِینَ جَهَّزَ جَیشَ العُسرَه فَنَثَرَهَا فِی حِجرِهِ. قَالَ عَبدُالرَّحمَنِ فَرَأَیتُ النَّبِیُّﷺ یُقَلَّبُهَا فِی حِجرِهِ وَیَقُولُ: (مَاضَرَّ عُثمَانَ مَا عَمِلَ بَعدَ الیَومِ). مَرَّتَینِ.**

له عبدالرحمن بن سمرهرض څخه روایت ده وایي کله چې نبي کریمﷺ د جیش العسره لپاره وسایل آماده کول، په دې وخت کې حضرت عثمانرض د نبي کریمﷺ حضور ته راغي زر دیناره يې د نبي کریمﷺ په لمن کې واچول عبدالرحمنرض وایې: نبي کریمﷺ مې ولید چې هغه دینار يې په لمن کې یوخوا بل خوا کول او داسي وفرمایل: حضرت عثمانرض ته به له دې کار څخه وروسته هیڅ تاوان ونه رسیږي دغه جمله يې دوه واري تکرار کړه.[2]

**تشریح:** له پورتنیو دوه حادیثونو څخه د حضرت عثمانرض صدقات او خیر ښیګڼې څرګندیږي. هغه د اسلامي لښکرو په تجهیز او د خلکو په خیر ښیګڼه کې هیڅ ډول هلي ځلي ونه سپمولي، مطلب خپل مال يې په دې لاره کې مصرف کړ.

## له حضرت عثمانرض نه ملائکو حیاء کوله

**۴) قالت عَائِشه رضی الله عنها: کَانَ رَسُولُ اللهِﷺ مُضطَجِعًا فِی بَیتِی، کَاشِفًاعَن فَخِذَیهِ، أَوسَاقَیهِ، فَاستَأَذَنَ أَبُوبَکرٍ فَأَذِنَ لَهُ، وَهُوَ عَلَی تِلکَ الحَالِ، فَتَحَدَّثَ، ثُمَّ استَأُذَنَ عُمَرُ، فَأَذِنَ لَهُ، وَهُوَ کَذَلِکَ، فَتَحَدَّثَ، ثُمَّ استَأَذَنَ عُثمَانُ، فَجَلَسَ رَسُولُ اللهِﷺ ، وَسَوَّی ثِیَابَهُ فَدَخَلَ فَتَحَدَّثَ، فَلَمَّا خَرَجَ قَالَت عَائِشَهُ: دَخَلَ أَبُوبَکرٍ فَلَم تَهتَشَّ لَهُ وَلَم تُبَالِهِ، ثُمَّ دَخَلَ عُمَرُ فَلَم تَهتَشَّ لَهُ وَلَم تُبَالِهِ، ثُمَّ دَخَلَ عُثمَانُ فَجَلَستَ وَسَوَّیتَ ثِیَابَکَ فَقَالَ: (أَلَا أَستَحِیِ مِن رَجُلٍ تَستَحِیِ مِنهُ المَلَائِکَه).**

له حضرت عائشي رضی الله عنها څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ په خپل کور کې اوږد غزیدلي وه په داسي حال کې چې پندۍ يې ښکاره کیدلي، په دې وخت کې ابوبکررض د داخلیدو اجازه وغوښته نبي کریمﷺ په همغه حالت کې چې وو، ابوبکررض ته د داخلیدو اجازه ورکړه له هغه سره يې خپلو خبرو ته دوام ورکړ وروسته بیا عمررض د داخلیدو اجازه وغوښته نبي کریمﷺ هغه ته هم په همغه حالت کې د داخلیدو اجازه ورکړه بیا يې خپلو خبرو ته دوام ورکړ، وروسته بیا عثمانرض د داخلیدو اجازه وغوښته په دې وخت کې نبي کریمﷺ کیناسته خپل کالي يې منظم کړل تر څو عثمانرض راغي خبري يې وکړي کله چې بیرته لاړ، عائشی رضی الله عنها له نبي کریمﷺ څخه پوښتنه وکړه ابوبکررض راغي ته هیڅ ځان منظم نه کړ هغه ته دې اهمیت ورنه کړ، بیا عمررض راغي بیا هم په خپل حال پاتې وې هغه ته دې هم اهمیت ورنه کړ، خو کله چې عثمانرض راغي ته کیناستی خپل کالي دی منظم کړل. نبي کریمﷺ ورته وفرمایل: ایا له هغه سړي څخه چې ملائکې حیاءکوي زه حیاء ونه کړم.[3]

## د عثمانرض د خلافت پر مهال د فتني د واقع کیدو په اړه د نبي کریمﷺ وړاندینه

**۵) عَن عَائِشَه أَنَّ النَّبِیَّﷺ قَالَ: (یَا عُثمَانُ اِنَّهُ لَعَلَّ اللهَ یُقَمِّصُکَ قَمِیصًا فَاِن أَرَادُوکَ عَلَی خَلعِهِ فَلاَ تَخلَعهُ لَهُم).**

---

[1] بخاری (۳۶۹۴)
[2] ترمذی (۳۷۰۱)
[3] مسلم (۲۴۰۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له حضرت عائشی رضی الله عنها څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ وفرمایل: ای عثمانرض! اللهﷻ به جامه د (خلافت) ستا پر تن کړي، که چیري بعضو وغوښتل چې هغه ستا له بدن څخه لرې کړي نو هیڅ کله هغه له ځان څخه لرې نه کړې.[1]

## حضرت عثمانرض یو مظلوم شهید

**۶) عَن ابنِ عُمَرَ، قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِتنَةً، فَقَالَ: (يُقتَلُ هَذَا فِيهَا مَظلُومًا لِعُثمَانَ).**

له ابن عمررض څخه روایت ده چې نبي کریمﷺ له فتني څخه یادونه وکړه او وفرمایل: دغه سړی(عثمانرض) به په هغه ورځ ډېر په مظلومانه ډول په شهادت ورسیږي.[2]

## د فتني د رامنځته کیدو پرمهال عثمانرض په حقه وه

**۷) عَن مُرَّه البَهزِيِّ، قَالَ: بَينَمَا نَحنُ مَعَ رَسُولِ اللهِﷺ فِي طَرِيقٍ مِن طُرُقِ المَدِينَه، قَالَ: (كَيفَ تَصنَعُونَ فِي فِتنِهٍ تَثُورُ فِي أَقطَارِ اللَّارضِ كَأَنَّهَا صَيَاصِى البَقَرِ؟) قَالُوا: نَصنَعُ مَاذَا يَا نَبِيَّ اللهِ؟ قَالَ: (عَلَيكُم بِهَذَا وَأَصحَابِهِ)، قَالَ فَأَسرَعتُ حَتَّى عَطَفتُ اِلَى الرَّجُلِ، قُلتُ: هَذَا يَا نَبِيَّ اللهِ؟ قَالَ: (هَذَا) فَإِذَا هُوَ عُثمَانُ**

له مرهٔ بهزي نه روایت ده چې وايي له نبي کریمﷺ سره د مدیني له لارو څخه په یوه لار کې وم راته وفرمایل: له هغې فتني سره چې د غوایې د ښکرو په شان ده او د ځمکې په شاو خوا کې ظاهریږي، څه کوی؟ ورته ومې ویل څه وکړو یا رسول اللهﷺ؟ راته وفرمایل: پرتاسې لازمه ده چې له دغه کس او ملګرو سره یې اوسي. نو ما بیړه وکړه تر څو هغه کس ته ورسیدم ورته ومې ویل: دغه کس ده یارسول اللهﷺ؟ راته وفرمایل: هو. کله چې مې ولیده هغه عثمان بن عفان وه.[3]

## د حضرت عثمانرض قبولې شوي صديقي

**۸) عَن أَبِي عَبدِالرَّحمَنِ السُّلَمِيِّ قَالَ: لَمَّا حُصِرَ عُثمَانُ أَشرَفَ عَلَيهِم فَوقَ دَارِهِ ثُمَّ قَالَ: أَذَكِّرُكُم بِاللهِ هَل تَعلَمُونَ أَنَّ حِرَاءَ حِينَ انتَفَضَ قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ: (اثبُت حِرَاءُ فَلَيسَ عَلَيكَ اِلاَّ نَبِيٌّ أَو صِدِّيقٌ أَو شَهِيدٌ). قَالَوا: [نَعَم]. قَالَ: أَذَكِّرُكُم بِاللهِ هَل تَعلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ فِي جَيشِ العُسرَه: (مَن يُنفِقُ نَفَقَةً مُتَقَبَّلَةً). وَالنَّاسُ مُجهَدُونَ مُعسِرُونَ فَجَهَّزتُ ذَلِکَ الجَيشَ؟. قَالُوا [نَعَم] ثُمَّ قَالَ: أَذَكِّرُكُم بِاللهِ هَل تَعلَمُونَ أَنَّ بِئرَ رُومَه لَم يَكُن يَشرَبُ مِنهَا أَحَدٌ اِلاَّ بِثَمَنٍ فَابتَعتُهَا فَجَعَلتُهَا لِلغَنِيِّ وَالفَقِيرِ وَ ابنِ السَّبِيلِ؟. قَالُوا: اللَّهُمَّ نَعَم. وَأَشيَاءُ عَدَّدَهَا.**

له ابی عبدالرحمن السلمي څخه روایت ده چې وايي: کله چې حضرت عثمانرض محاصره سو نو د خپل کور بام ته پورته شو وفرمایل: زه تاسي ته په اللهﷻ قسم درکوم. ایا تاسي په دې پوهیږي کله چې حراء ورلزیده نو نبي کریمﷺ ورته وفرمایل: اې حراء ثابت اوسه ستا پرمخ باندې له نبي، صدیق او شهید پرته بل څوک نشته. محاصره کوونکو ورته وویل هو مونږ په دې پوهیږو بیا عثمانرض ورته وویل: زه تاسي ته په خدایﷻ قسم درکوم چې ایا تاسي په دې پوهیږي چې په جیش العسره کې نبي کریمﷺ وفرمایل: څوک قبولې شوي صدیقي ورکوي په داسي حال کې چې په دې جګړه کې خلک ډېر سخت وږي او له مشکلاتو سره مخ وه، خو ما دغه ځواکونه سمبال کړل محاصره کوونکو ورته وویل: هو مونږ په دې پوهیږو. بیا عثمانرض ورته وفرمایل: زه تاسي ته په خدايﷻ قسم درکوم چې تاسي په دې پوهیږي چې څوک له رومه کوهي څخه اوبه

[1] ترمذی (۳۷۰۵)
[2] احمد (۵۹۵۳)
[3] صحيح ابن حبان (۶۹۱۴)، صححه البانی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وځښتي باید قیمت ورکړي خو ما هغه کوهي واخیسته د مالدار غریب او لارویانو لپاره مې وقف کړ، محاصره کوونکیو ورته وویل: هو مونږ په دې پوهیږو. په همدي ترتیب د ځیني نورو یادونه هم وکړه.[1]

**تشریح:** دغه قیضیه دوه ځلي تکرار شوي ده یو ځل د مکه د حراء په غر کې او دوهم ځل د مدینه د احد په غر کې چې په لسم لمبر حدیث کې به راشي.

## له حضرت عثمانرض څخه د ابن عمررض ملاتړ

**٩) عَن عُثمَانَ بنِ عَبدِاللهِ بنِ مَوهَبٍ، أَنَّ رَجُلًا مِن أَهلِ مِصرَ حَجَّ البَیتَ فَرَأَی قَومًا جُلُوسًا فَقَالَ: مَن هَؤُلَاءِ؟ قَالُوا: قُرَیشٌ. قَالَ: فَمَن هَذَا الشَّیخُ؟ قَالُوا: ابنُ عُمَرَ فَأَتَاهُ فَقَالَ: إِنِّی سَائِلُکَ عَن شَیءٍ فَحَدِّثنِی، أَنشُدُکَ اللهَ بِحُرمَةِ هَذَا البَیتِ أَتَعلَمُ أَنَّ عُثمَانَ فَرَّ یَومَ أُحُدٍ؟ قَالَ نَعَم، قَالَ: أَتَعلَمُ أَنَّهُ تَغِیَّبَ عَن بَیعَةِ الرِّضوَانِ فَلَم یَشهَدهَا؟ قَالَ نَعَم، قَالَ: أَتَعلَمُ أَنَّهُ تَغِیَّبَ یَومَ بَدرٍ فَلَم یَشهَدهُ؟ قَالَ: نَعَم، فَقَالَ: اللهُ أَکبَرُ، فَقَالَ لَهُ ابنُ عُمَرَ: تَعَالَ أُبَیِّن لَکَ مَا سَأَلتَ عَنهُ: أَمَّا فِرَارُهُ یَومَ أُحُدٍ فَأَشهَدُ أَنَّ اللهَ قَد عَفَا عَنهُ وَغَفَرَلَهُ، وَ أَمَّا تَغَیُّبُهُ یَومَ بَدرٍ فَإِنَّهُ کَانَت عِندَهُ أَوتَحتَهُ ابنَةُ رَسُولِ اللهِﷺ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِﷺ:(لَکَ أَجرُ رَجُلٍ شَهِدَ بَدرًا وَسَهمُهُ)، وَ أَمَرَهُ أَن یَخلُفَ عَلَیهَا وَ کَانَت عَلِیلَةً. وَ أَمَّا تَغَیُّبُهُ عَن بَیعَةِ الرِّضوَانِ فَلَو کَانَ أَحَدٌ أَعَزَّ بِبَطنِ مَکَّةَ مِن عُثمَانَ لَبَعَثَهُ رَسُولُ اللهِﷺ مَکَانَ عُثمَانَ، بَعَثَ رَسُولُ اللهِﷺ عُثمَانَ وَکَانَت بَیعَةُ الرِّضوَانِ بَعدَ مَا ذَهَبَ عُثمَانُ إِلَی مَکَّةَ. قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِﷺ بِیَدِهِ الیُمنَی:( هَذِهِ یَدُعُثمَانَ). وَضَرَبَ بِهَا عَلَی یَدِهِ، فَقَالَ: ( هَذِهِ لِعُثمَانَ)، قَالَ لَهُ: اذهَب بِهَذَا الآنَ مَعَکَ.**

له عثمان بن عبدالله بن موهب څخه روایت ده چې یو کس له مصر څخه د بیت الله شریفي د زیارت لپاره راغي، هغه یوه ډله ولیده چې یو ځای ناسته وه وویل: دا څوک دي ورته وویل شول دا قریش دي بیا یې وویل: دغه کس څوک دي ورته وویل شول ابن عمر ده بیا د هغه حضور ته ورغي ورته وویل: زه له تا څخه د یو څه په باره کې پوښتنه کوم نو ته جواب راکړه. زه تاته د کعبي په حرمت قسم درکوم چې آیا عثمانرض د احد په ورځ تیښته کړي؟ ابن عمر ورته وویل: هو. راغلی کس بیا پوښتنه وکړه ایا ته په دې پوهیږي چې په بیعت رضوان کې عثمانرض شتون نه درلوده؟ ابن عمر ورته وویل: هو. راغلي کس بیا پوښتنه وکړه ایا ته په دې پوهیږی چې عثمانرض د بدر په غزا کې حضور نه درلوده؟ ابن عمر ورته وویل: هو. وروسته هغه راغلي کس وویل: الله اکبر په دې کې ابن عمر ورته وویل: مخکې راشه تر څو د دې پیښو علتونه درته بیان کړم. حضرت عثمانرض چې د احد په ورځ تیښته کړي زه شاهدي ورکوم چې اللهﷻ له دې څخه ورتیر شوي او عفوه یې ورته کړي ده. ولي په بدر کې یې چې شتون نه درلوده هغه د دې په خاطر وه، چې دنبي کریمﷺ له لور څخه چې د ده میرمن وه ساتنه وکړي نبي کریمﷺ ورته وفرمایل: تاته به هم د هغو کسانو په شان اجر درکول شي کوم چې په بدر کې شتون لري، نبي کریمﷺ ورته امر کړي وه چې له لور سره یې پاتې شي. او داچې په بیعت رضوان کې شتون نه درلوده په دې کې د حضرت عثمانرض قصور نه وه ځکه که چیري په مکه کې له عثمانرض څخه پرته بل عزتمن شخص واي نو هتمن به نبي کریمﷺ هغه استولي وه، کله چې بیعت رضوان کیده حضرت عثمانرض مکې ته تللی وه. ابن عمر راغلي کس ته وویل: نبي کریمﷺ خپل ښي لاس ته اشاره وکړه دا د عثمان رض لاس دي هغه یې په خپل چپ لاس باندې کیښود او داسي وفرمایل: دا بیعت د حضرت عثمان لپاره ده. ابن عمر راغلي کس ته وویل: ته اوس له هغه څه سره لاړ شه کوم چې تا له دغو معلوماتو څخه ترلاسه کړل.[2]

## د حضرت عثمانرض د شهادت ثبوت

**١٠) عَن أَنَسٍ، أَنَّ نَبِیَّ اللهِﷺ صَعِدَ أُحُدًا وَمَعَهُ أَبُوبَکرٍ وَعُمَرُ وَعُثمَانُ فَرَجَفَ بِهِم فَضَرَبَهُ بِرِجلِهِ وَقَالَ: (اثبُت فَإِنَّمَا عَلَیکَ نَبِیٌّ، وَصِدِّیقٌ، وَشَهِیدَانِ)**

---

[1] ترمذی (٣٦٩٩)
[2] ترمذی (٣٧٠۶) + مسند احمد (۶٠١١)

(c) ketabton.com: The Digital Library

انس بن مالکرض وايي نبي کريمﷺ، ابوبکررض، عمررض او عثمانرض د احد د غره سرته لاړل، نو د احد غر په لړزه شو نبي کريمﷺ ورته وويل: ای احده! ارام اوسه ستا په سر باندې يو نبيﷺ، يو صديق او دوه شهيدان (عمر او عثمان رضی الله عنه) شتون لري.[1]

**تشريح:** پورتني حديث د حضرت عثمانرض د شهادت دليل دي همدارنگه مخکې له دې چې حضرت عثمانرض په شهادت ورسيږي د شهادت خبر يې نبي کريمﷺ ورته رسولې وه.

[1] بخاری (۳۶۷۵) + الترمذی (۴۰۳۰) + النسائی فی الکبری (۸۰۷۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځلورمه برخه

# د حضرت علي رضي الله تعالی عنه فضلتونه

**نوم:** علي

**کنيه:** ابوالحسن، ابو تراب

**لقب:** اسدالله

**د پلار نوم:** ابوطالب (عبد مناف) بن عبدالمطلب

**د مور نوم:** فاطمه بنت اسد

حضرت عليرض د پلار له طرفه د نبي کريمﷺ د تره زوي او له بل طرفه د نبي کريمﷺ زوم هم وه.[1] وروسته له دې چې په ۳۵ هجري کال کې حضرت عثمانرض په شهادت ورسيده. مسلمانانو په حضرت عليرض باندې توافق وکړ او د خپل امير په حيث يې وټاکه. حضرت عليرض په هغو غزاواتو کې چې د نبي کريمﷺ په وخت کې شوي وي او همدارنګه په هغو جګړو کې چې د تيرو خلفاو په وخت کې شوي وي ډيره بهادري او ميړانه ښکاره کړې وه. د حضرت عليرض د خلافت پرمهال له کفارو سره جهاد دريدلی وه په اسلامي فتوحاتو کې زياتوالی رانغی چې په دې سره يې د خلافت دوره ټوله په کورنيو جګړو کې تيره شوه. حضرت عليرض د ۴ کاله او ۹ مياشتې خلافت وروسته په ۴۰ هجري کال د رمضان دمياشتې په ۲۱ نېټه د ۶۳کلو په عمر د عبدالرحمن بن ملجم له لوري په شهادت ورسيده.

## له حضرت عليرض سره مينه کول الهی امر دي

**۱) عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَن أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ: اِنَّ اللهَ أَمَرَنِى بِحُبَّ أَرْبَعَهٔ، وَأَخْبَرَنِى أَنَّهُ يُحِبُّهُمْ. قِيلَ: يَا رَسُولُ اللهِ سَمِّهِمْ لَنَا، قَالَ: عَلِيُّ مِنْهُمْ، وَأَبُوذَرَّ، وَالمِقْدَادُ، وَسَلْمَانُ أَمَرَنِى بِحُبِّهِم، وَأَخبَرَنِى أَنَّهُ يُحِبُّهُمْ.**

له بُريده بن حصيب څخه روايت ده چې رسول اللهﷺ وفرمايل: اللهﷻ ماته خبر راکړ چې له څلورو کسانو سره مينه لري او ماته يې هم له هغو سره د مينې کولو امر کړې ده. ورته ومې ويل يارسول اللهﷺ هغه کسان راته معرفي کړه. نبي کريمﷺ وفرمايل: عليرض يو له هغو کسانو څخه دي پاتې نور يې ابوذر، مقداد او سليمان دي اللهﷻ امر کړي تر څو له هغو سره مينه ولرم ځکه اللهﷻ له هغوي سره مينه لري.

## له عليرض سره د نبي کريمﷺ مينه او محبت

**۲) قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ: (اِنَّ عَليًّا مِنَّى وَأَنَا مِنهُ، وَهُوَ وَلِيُّ كُلَّ مُؤْمِنٍ مِنْ بِعْدِى).**

نبي کريمﷺ وفرمايل: علي زما ده او زه د علي يم، له ما وروسته هغه د هر مؤمن مسلمان ملګري ده.[2]

[1] علی بن ابی طالب، صلابی (ص۵۹) ترجمه عبدالله ريکی.
[2] نسائی (۸۰۹۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نبي کريمﷺ په وړاندې د حضرت عليرض مقام

**٣)عَن سعد بن ابی وقاصرض قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِﷺ لِعَلِیَ: (أَنْتَ مِنَّی بِمَنْزِلَهٔ هَارَونَ مِنْ مُوسَی. اِلاّ أَنّهُ لاَنِبِیَّ بَعْدِی).**

له سعد بن ابی وقاص څخه روايت ده چې نبي کريمﷺ حضرت عليرض ته وفرمايل: ته ماته هغه مقام لري کوم چې هارونع موسیع ته درلوده، بغير له دې چې له ما وروسته بل پيغمبر نه راځي.[1]

**تشريح:** له پورتني حديث څخه د نبي کريمﷺ بي حده مينه له حضرت عليرض سره څرګنديږي. عليرض يې خپل ځان ګاڼه، هغه مقام يې ورکړي وه کوم چې موسیع هارونع ته ورکړي وه.

## عليرض دوست مسلمان او دوښمن يې منافق دي

**۴) عَنْ زِرِّ بْنِ حُبُيْشٍ، عَنْ عَلِیِّرض قَالَ: (لَقَدْ عَهِدَ اِلَیَّ النَّبِیُّ الأمِّیُّﷺ أَنَّهُ لَا يُحِبُّکَ اِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يَبْغَضُکَ اَلَّا مُنَافِقٌ).**

له زر بن جحش څخه روايت ده چې عليرض وفرمايل: نبي کريمﷺ له ما سره وعده کړې چې له تاسره به له مؤمن پرته مينه نه کو ي، او له منافق پرته به دوښمني نه کوي.[2]

## حضرت عليرض ته توهين د نبي کريمﷺ د قهر لامل شو

**۵)عَن عِمرَانَ بنِ حُصَينٍ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِﷺ جَيشاً وَاسْتَعْمَلَ عَلَيْهِمْ عَلِیَّ بْنَ أَبِی طَالِبٍ، فَمَضَی فِی السَّرِيَّه فَأَصَابَ جَارِيَهً فَأَنْکَرُوا عَلَيْه، وَتَعَاقَدَ أَرْبَعَهٌ مِن أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِﷺ فَقَالُوا: اِذَا لَقِينَا رَسُولَ اللهِ ﷺ أَخْبَرْ نَاهُ بِمَا صَنَعَ عَلِیٌّ ، وَکَانَ الْمُسْلِمُونَ اِذَا رَجَعُوا مِنَ السَّفَرِ بَدَءُوا بِرَسُولِ اللهِﷺ فَسَلَّمُوا عَلَيْهِ، ثُمَّ انْصَرَفُوا اِلَی رِحَالِهِمْ فَلَمَّا قَدِمَتِ السَّرِيَّهُ سَلَّمُوا عَلَی النَّبِیِّﷺ فَقَامَ أَحَدُ الأَرْبَعَهِ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِﷺ أَلَمْ تَرَ اِلَی عَلِیَّ بْنِ أَبِی طَالِبٍ صَنَعَ کَذَا وَ کَذَا، فَأَعْرَضَ عَنْهُ رَسُولُ اللهِﷺ، ثُمَّ قَامَ الثَّانِی فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ،ثُمَّ قَامَ اِلَيْهِ الثَّالِثُ فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ، ثُمَّ قَامَ الرَّابِعُ فَقَالَ مِثْلَ مَا قَالُوا، فَأَقْبَلَ اِلَيْهِ رَسُولُ اللهِﷺ وَالغَضَبُ يُعْرَفُ فِی وَجْهِهِ، فَقَالَ: ( مَاتُرِيدُونَ مِنْ عَلِیِّ؟ مَاتُرِيدُونَ مِنْ عَلِیِّ؟ مَاتُرِيدُونَ مِنْ عَلِیِّ؟ اِنَّ عَلِيًّا مِنِّی وَ أَنَا مِنْهُ، وَهُوَ وَلِیُّ کُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ بَعْدِی).**

له عمران بن حصين څخه روايت ده چې وايې نبي کريمﷺ يو لښکر چمتو کړ د هغو لپاره يې عليرض امير وټاکه. په دغه سريه چې د لښکر قومنده د عليرض په لاس کې وه عليرض د ځان لپاره يو وينځه ځانګړې کړه او له هغې سره يې جماع وکړه. د ده ملګرو ډير خه ورته ووېل په دې کې د نبي کريمﷺ څلور تنه صحابه کرامو دا وعده وکړه که چيري له نبي کريمﷺ سره ملاقات وشو نو د عليرض له کار څخه به يې خبروو. کله به چې مسلمانان له سفر څخه راستنيدل لومړي به د نبي کريمﷺ ملاقات ته ورتلل له هغه وروسته به بيا خپلو کورونو ته تلل کله چې د غه لښکر بيرته راوګرځيده يو له هغو اصحابانو څخه پورته شو وويل: يا رسول اللهﷺ علیرض داسي داسي کار وکړ. نبي کريمﷺ له هغه څخه مخ واړوه. بيا دوهم کس پورته شو د لومړي کس پشان خبري وکړي نبي کريمﷺ له هغه څخه هم مخ وګرځاوه. دريم کس پورته شو د تيرو دوه نفرو خبري يې تکرار کړی نبي کريمﷺ له هغه څخه هم مخ وګرځاوه. څلورم کس هم هغه خبري تکرار کړي په داسي حال کې چې د نبي کريمﷺ په مبارک مخ کې غوسه له واريه څرګنديده هغه ته يې مخ کړ ورته وويل: له عليرض څخه

[1] مسلم (۲۴۰۴) + نسائی (۸۱۴۳)
[2] مسند احمد (۷۳۱) + ترمذی (۳۷۳۶) + نسائی (۸۴۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه غواړي؟ له عليرض څخه څه غواړي؟ له عليرض څخه څه غواړي؟ عليرض له ما څخه دي او زه له عليرض څخه يم له ما وروسته به د هر مؤمن سرپرست وي.[1]

**تشريح:** ښايي د هغه څلورو صحابه کرامو فکر به دا وه چې دغه وينځه بايد د پاکوالي موده تيره کړي. خو د عليرض بيا دا دليل وړاندې کاوه چې هغه وينځه باکره او نابالیغه وه نو په همدې وخت کې له هغې سره جماع ممکن وه. او يا هم کيداي شي دغو څلورو کسانو به په عليرض د دې په خاطر شک کاوه چې په غنيمت کې به امانتداري رعايت نه کړه.

داچې نبي کريمﷺ فرمايي چې عليرض له ما څخه دي او زه له عليرض څخه يم نو دا د دې څرګندونه ده چې د عليرض کړنه د نبي کريمﷺ د تائيد وړ ده.

## حضرت علي رضي الله تعالى عنه دخيبر فتحه کوونکی

**۶) عَن أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِﷺ قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ: (لأعْطِيَنَّ هَذِهِ الرَّايَه رَجُلاً يُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ يَفْتَحُ اللهُ عَلَى يَدَيْهِ). قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ مَا أَحْبَبْتُ اِلامَارَه اِلاَّ يَوْمَئِذٍ [قَالَ] فَتَسَاوَرْتُ لَهَا رَجَاءَ أَن أُدْعَى لَهَا [قَالَ] فَدَعَا رَسُولُ اللهِﷺ عَلِيَّ بْنَ أَبِى طَالِبٍ فَأَعْطَاهُ اِيَّاهَا وَقَالَ: ( امْشِ وَلاَ يَلْتَفِتْ فَصَرَخَ يَا رَسُولَ اللهِ عَلَى مَاذَا أُقَاتِلُ النَّاسَ قَالَ: (قَاتِلْهُمْ حَتَّى يَشْهدُوا أَنْ لاَ اِلَهَ اِلاَّ اللهُ وَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ فَاِذَا فَعَلُو ذَلِکَ فَقَدْ مَنَعُو مِنْکَ دِمَاءَهُمْ وَ أَمْوَالَهُمْ اِلاَّ بِحَقِّهَا وَ حِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ).**

ابوهريرهرض څخه روايت ده چې نبي کريمﷺ د خيبر په ورځ وويل: د جنګ بيرغ به هغه چاته ورکوم چې له اللهﷻ او د هغه له رسولﷺ سره مينه ولري او اللهﷻ د هغه په وسيله مسلمانانو ته فتحه ورنصيب کړي. حضرت عمررض وايي ماته د هغې ورځې له امارت پرته بل هيڅ امارت دومره په زړه نه وه همدارنګه وايي ما هيله درلوده چې د جنګ لپاره به زه انتخاب شم. نبي کريمﷺ عليرض راوغوښته او هغه ته يې بيرغورکړ ورته وفرمايل: ځه تر هغه مخ مه ګرځوه تر څو اللهﷻ فتحه درنصيب کړي. وروسته عليرض حرکت وکړ بغير له دې چې بيرته راوګرځي له هغه ځای څخه يې چغې وهلې يا رسول الله! په کوم هدف جګړه وکړم. نبي کريمﷺ ورته وفرمايل: له هغوي سره جهاد وکړه تر څو ګواهي ورکړي چې (لا اله الا الله محمد رسول الله) کله يې چې کليمه وويلې وينه او مالونه يې محفوظ دي خومره يې چې حق وي نور حساب يې له اللهﷻ سره دي.[2]

## حضرت علي رضى الله تعالى عنه د قرانکريم په اساس جګړه کوله

**۷) عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِﷺ يَقُولُ: (اِنَّ مَنْکُمْ مَنْ يُقَاتِلُ عَلَى تَأْوِيلِ الْقُرْآنِ، کَمَا قَاتَلْتُ عَلَى تَنْزِيلِهِ) قَالَ أَبُوبَکْرٍ: أَنَا هُوَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: (لَا)، قَالَ عُمَرُ: أَنَا هُوَ يَا رَسُولَ اللهِﷺ؟ قَالَ: (لا، وَلَکِنْ خَاصِفُ النَّعْلِ)، قَالَ: وَکَانَ أَعْطَى عَلِيًّا نَعْلَهُ يَخْصِفُهُ.**

له ابی سعيد خدريرض څخه روايت ده چې وايي ما له نبي کريمﷺ څخه واوريدل چې فرمايل يې: ستاسو له منځ څخه داسي يو کس ده چې د قرانکريم په اساس جنګيږيري لکه څنګه چې زه د هغه د نزول په خاطر جګړه کوم. ابوبکررض ورته وويل: ايا زه يم يا رسول اللهﷺ ورته وويل: نه. بيا عمررض وويل: ايا زه يم يا رسول اللهﷺ؟ ورته وويل: نه. بلکې هغه د بوټونو پټري کوونکي ده. په داسي حال کې چې خپل بوټونو يې عليرض ته ورکړي وو او هغه ورته پيوند کوله.[3]

---

[1] ترمذی (۳۷۱۲)
[2] مسلم (۲۴۰۵)
[3] مسند احمد (۱۱۲۸۹) + صحيح ابن حبان (۶۹۳۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د علي رضی الله تعالی عنه لپاره د الله ﷻ ښېښه

**۸) عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رض، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ: (يَا عَلِيُّ، أَلا أُعَلِّمُکَ کَلِمَاتٍ اِذَا قُلْتَهُنَّ، غُفِرَلَکَ، مَعَ أَنَّهُ مَغْفُورٌ لَکَ: لَاَ اِلَهَ اِلَّا اللهُ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ، لَا اِلَهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ، سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، وَالْحَمْدُلِله رَبِّ الْعَالَمِينَ).**

له علي رض څخه روایت ده چې نبي کریم ﷺ راته وفرمایل: داسې جملې درته ونه ښایم چې هغه ولولې الله ﷻ دې وبښي سره ددې چې ښښل شوي يې، وروسته يې دا کلیمات راته وویل: له هغه الله ﷻ پرته چې هغه د لوړو درجو او لوړ قدرت خاوند ده بل هيڅ معبود نشته پاکې ده هغه ذات لره چې هغه د اوو اسمانونو او عرش مالک ده ثنا او صفت خاص هغه ذات لره دي چې هغه تربیه کوونکې د عالمیانو دي.[1]

## حضرت علي رض لپاره د جنت زيري

**۹) عَنْ عَبْدِالرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: (أَبُوبَكْرٍ فِي الجَنَّه وَ عُمَرُ فِي الجَنَّه وَ عُثْمَانُ فِي الجَنَّه وَعَلِيٌّ فِي الجَنَّه وَ طَلْحَه فِي الجَنَّه وَ الزُّبَيْرُ فِي الجَنَّه وَ عَبْدُالرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ فِي الجَنَّه وَ سَعْدٌ فِي الجَنَّه وَ سَعِيدٌ فِي الجَنَّه وَ أَبُوعُبَيْدَه بْنُ الجَرَّاحِ فِي الجَنَّه).**

له عبدالرحمن بن عوف رض څخه روایت ده چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: ابوبکر رض جنتي دی، عمر رض جنتی دي، عثمان رض جنتي دي، علي رض جنتي دي، طلحه رض جنتي دي، زبیر رض جنتي دي، عبدالرحمن بن عوف رض جنتي دي، سعد رض جنتي دي، سعید رض جنتي دي او عبیده بن جراح رض جنتي دي. [2]

## حضرت علي رضي الله تعالی عنه غوره شخصیت وه

**۱۰) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رض قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ( الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّه، وّ أَبُوهُمَا خَيْرٌ مِنْهُمَا).**

له ابن عمر رض څخه روایت ده چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: حسن او حسین به په جنت کې د ځوانانو سردارن وي او پلار يې له دوي دواړو څخه غوره دي.[3]

**تشریح:** له پورتنیو دوه حدیثونو څخه دا ثابت کیږي چې حضرت علي رض جنتي دي لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ په دونیا کې د جنت زیري ورکړي وه.

## (سبحانک اللهم و بحمدک اشهد أن لا الا انت استغفرک و أتوب الیک)

پای

خوست - ګربز

۱۹/۴/۱۴۰۳

[1] نسائی (۷۶۳۱) + مسند احمد (۷۱۲) + صحیح ابن حبان (۶۹۲۸)
[2] ترمذی (۳۷۴۷)
[3] ترمذی (۳۷۳۶) + ابن ماجه (۱۱۴)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**